

**دمقالي ليکونکي** : *پټ بوخانن (Pat Buchanan)*

**منبع اودخپريدو نيټه** : *انفارميشن کليرنګ هوز«۲۰۱۶-۱۲-۱۴»*

**ژباړونکي** : *پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل»*

---

# *آيا ترومپ ځانته دجان مک کين اودمارکودناسزاويلو په مقابل کی به له ځانه غبرګون وښيی؟*

# *Will Trump Defy McCain and Marco?*

*کله چي دولاديمير پوتين له خوا دروسی ددوستی د جا يزي موضوع کوم چي د اکسون دشرکت اجرايوی رييس ښاغلی رکس تيليرسون (Rex Tillerson) ته ورکړ شوی وه افشا اوهغه يعنی تيلرسون د ښاغلی دونالد ترومپ له خوا دا مريکی د متحده ايالاتو دبا ند نی چارود وزير په صفت نومول کيږی- جان مک کين د ترومپ ددی انتخاب په مقابل کي له ځا نه دا سي غبرګون ښکاره کوي :*

***« ولاديميرپوتين يو جنايتکا ر،خونی ځورونکي هلک اويوقا تل دي اوهرهغه څوک چي هغه په نورو صفا تو وپيژني له سره تول دروغ دي »***

*حال داچي ښاغلی ولاديمر پوتين د جان مک کين د پورتنی اظهاراتو څخه برخلاف يوداسی شخصيت دی يعنی د يوپيا وړی اودځمکي پرمخ د يو ستر هيواد ا نتخا بی مشر دی چي لرونکي دهستوی سلاح دی اوکولای شي چي دامريکي متحده ايالات دځمکي دوچي له مخه له بيخه نا بود او ورک کړی نو په دي لحا ظ سره ښا يي چي دهغه سره پوره انسا ني برخورد اومعا مله ترسره شي نه چي هغه په زشتو الفاظو سره بدرقه شي.*



*جا ن مک کين دامريکی د متحده ايالاتو د دموکرات د ګوند د خارجی روابطو د مشر اوپيژند ل شوی څيري ښاغلی بابو مينيد يز(Bob Menedez) سره په همغږی ددونالد ترومپ له خوا دښاغلي تيلرسون دامريکی د با ند نيو چا رو د وزير د نومان په بنه*

تاکنه ( خطرناک او پوچ یا بی مفهوم ........ تعریف شوی اوداسي یادونه شوی چي دروسي تعهد د دونالد ترومپ سره په همالاسي د ا پخپله زمونږ دهیواد په کابینه کې د یوسړي ګمارل دی کوم چي زمونږ دبا ند نـي سیا ست لار ښود اووسی .

**سین مارکو روبیو** (Sen Marco Rubio) د جان مک کین سره په همغږي ویلی دی « دولاد یمیر سره دوستي هیڅ ویا ړنه (افتخار) نه دی- زه هیله من یم چي زمونږ دهیواد دبا ند نـی چا رو وزیر له دی شا ن دوستي څخه ډډه وکړي ».

د جمهوریخواها نو یوه موثقه منبع داسی څرګند کړي دي اوهغه داچي که چیری د جمهوریخواها نو د مخکینی ستر ګوند (GOP) دری غړی او په مجموع کي د موکراتا نو ښاغلی تیلرسون ته رای ورنکړی نو دهغه ا نتخاب د امریکی د متحده ایالاتود با ند نـی چارودوزیر په صفت نه قبلیږی. اویا هغه نوموړی مقام ته نه رسیږی . او په دي صورت سره دونالد ترومپ دما تـی سره مخامخ او تحقیر کیږي.

**ركس تيلرسون څوک دي ؟** تیتا ل یوه ډ یر لوی او یوستر شرکت دی کوم چي ښاغلی تیلرسون ددی شرکت داجرایوی ریس اومشر په صفت دنړی تولو برخو ته سفرونه تر سر کړی اودنړي په (۶۰) هیوادونو کی ددی سترشرکت نمایندګي پرانیستي دی اود نړی دډیرو مشرانواودهیوادونو د اولسمشرانوسره له نژدی کتنـي کړی دی هغه دکا ندی ریس (Condi Rice) اود رابرت ګیتس(Robert Gates) له خوا دونا لډ ترومپ ته معرفی شوی چي با ید دامریکی دمتحده ایالاتو دبا ند نـی چارو د وزیر په بڼه د دونالد ترومپ په کا بینه کی د ند ه تر سره کړي .

څارګر یا مشاهده کونکي دوکتور ښاغلي ساموېل جانسون (Samuel Johnson) داسي نظر لری اوهغه داچی یوسړي په ندرت سره کله چي غواړي د یومعا ملي په ترڅ کی پیسي ترلاسه کړي نو په پوره بی ګناهي سره ککړاویا نیول کیږي ، پس ممکن دي چي هغه کس د یو څه تما یل اود کشش په لرلو سره به وغواړي چي د نړي د نفت جهاني (OPEC) بازارته مخه کړي .

هوکي دا یو روښان حقیقت دي چی اکثر تجاران او پانګوالي بشپړ علاقمندي لری چي یوداسي تجارتـی معا ملي ترسره کړي چي دهغی معا ملي په پا یله کي یو څه پیسي وګټي یا ترلاسه کړي نوکه چیری په معا مله کي ونتوانید ل چي پیسي ترلاسه کړي نو هغه په جنګ لاس نه پوری کوي یعنی تجاران اکثراً د معا ملي خلک دی نه د جنګ اودجګړی خلک .

دلته هغه اصلی نیوکی او اعتراض چي پر تیلیرسون باندي لګول کیږی هغه دادي چي تیلرسون غواړي چي پر روسیی باندي وضع شوي تحریمونه وچت کړل شي او دهغه پر ځاي له دونالد ترومپ څخه غواړي چي دروسیی سره ګډي همکا ری ته وده ورکړی او له خشونت څخه لاس پر سر شي کوم چي دغه دول څرګندونه د امریکي د متحده ایالاتو

داجيرو اصلی رسنيو اود تنوير داتاقونو دمتفکرينو  په نظر روسي ته سيا سی امتيا ز او باج ورکول دي يعنی ددوي له خوا لا تر اوسه سره جګړه نه دي ختم شو ي .

پر **تيلرسون** باندی نيوکی او حمله اوپه عين زمان  پر روسيی باندي سر په سر حمله  د (سی آی ای) له مرکز څخه په دی پلمه  په  لاره  اچول  شو ی  چي  روسي  نه  يوائحی د دموکرات دګوند اود کلنتون پر کمپا ين باندی دهک (Hack ) کولو لاس لرل بلکه داسي هم ادعا شوی چي روسيه د کلنتون  شخصيت   ته هم تاوان او ضرر رسولی  اودامريکی د جمهوری ريا ست په ټولټاکنو کی ددي د پاره چي دونالد ترومپ بريالی شي  پوره لاس وهنه کړی دي.

**ولی مسکو داسي بايد وکړي** ؟ نيويارک ټايمز  دخپل دوشنبي ورځی په ګڼه کی په يوسر مقاله کي داسي توضيح کړي : چي ښاغلی دونالد ترومپ دروسا نو په دليل اوبرهان سره يوابتدايی انعطاف منونکی  تازه کار سيا سي شخص  دي چي هغه  خپل ځا ن  د کرملين د نوکرانو پواسطه سره کلا بند «احاطه» کړی دي .

جان مک کين د دموکرات دګوند د مشر ښاغلي  سين  چوک شومير ( Sen Chuck Schumer ) په ملاتړسره  ديو تحقيق او څيړلو  وړاند يز کړي  چي د نيويارک ټايمز په قول سره  ددی تحقيق  هد ف دا دی تر څوڅرګند شی چي هغو کسا نو کوم  چی د دونالد ترومپ د حلقی په دننه کی دي  د مسکو د کرملين دواکدارانو سره  هيلاری کلنتون  ته د ضرر رسولو دجعلی اخبارو په خپرولو کي  سره همغږ او هم آهنګ دي اويا څنګه ؟

**دلته بی دسترګو دحال دليدو څخه بل څه خبره شته** ؟ هغه کسان چی د«اوباما» دزيږيدو سرتيفيکيت  په يو زيږ اوشخړيز بڼی سره دهغه  نومان دامريکی  جمهوری ريا ست  ته دجمهور ريس په صفت  نفی کول  په همغه شان سره د دونالد ترومپ  نوما ن جمهوری رياست ته دجمهور ريس په حيث  هم  نفی  کوی.

دنيويارک ټايمز سرمقاله  ددونالد ترومپ  اولسمشری ديو توره تياره وريځ  په شکل سره توجيه کوی  او  داسی خبرداری  ورکوی چی  دامريکی د جمهوری ريا ست په ټول ټاکنو کی دروسی دهک کولو  پلټنه دناکامی سره مخامخ شوی اويوائحی هغه څه چي پاتي کيږی هغه د ميلينونو امريکا يا نو په مينځ کی د شک اود بد ګما نی  موضوع  دی  چي اکثر امريکايان  په دی نظر دی چي په انتخا با تو کی تقلب تر سره شوی دی .

بی ويلو دی پا تي نشي او هغه داچي ددونالد ترومپ دمخالفينو دهڅو ترشا  ستر او غټه انګيزه پروت دی او هغه داچي **تيلرسون** بايد بد نام  شی اود د دونالد  ترومپ اولسمشری نفی او غير مشروع وګڼل شي .دامريکي دمتحده ايالاتو په دواړو ګوندونو کي  له  دي نه چي دونالد ترومپ د جمهوری رياست  په ټول  ټاکنو کی  بری ترلاسه کړدهغه مخا لفين هک اوپک کړی  اوپه تيره بيا د دونالد ترومپ د باند نی سيا ست محتوی او اجندا  دهغه دمخا لفينو د خطر اودډار زمينه برابرکړي  دی  چی  هغوی  د خپل  خطر  اوډار اصلی

عامل ددونالد ترومپ خارجی سیا ست پوری مربوط ګڼی اوله ځانه داسی دلیلونه راولي
دغه اشخاص اویا ددونالد ترومپ مخالفین نه غواړي چي پر مسکو باندی دامریکی دخوا وضع شوی تحریمونه لیری کړل شی ، لکه همغسی چي هغوی پرکوچني مانتینیګرو (Montenegro) باندي تحریمونه لیري نکړل بلکه دهغوي نیت او هد ف دادي چي دناتو لمن تر سویدن ، فنلیند ، اوکراین ، جورجیا او ملداویا پوری پراخه کړي اوپه دی نظر دي چي روسیه د تل د پاره دامریکی د متحده ایالاتو تر محا صری او کلا بندی لاندی اووسی .
همدارنګه ددونالدترومپ مخالفین غواړي چي کیف ته یرغلیز وسلي برابرکړی چي په دنباس(Donbass) کی کورنی جګړه پیل شی اوبیا ددی جګړی لمن اوکراین او کریمه (Crimea) ته وغزیږي اوبیا ددی جګړی په اړه داسی هنګا مه را اوچته شی چي مونږ اوزمونږ متحد ین په ناتو کي داسی یاد شو چی مونږ په منطقه کی د جګړی اود مداخلی عامل یاستو .
دمخا لفینو اسا سی هدف جګړی ته دلمن وهلو څخه دادي چي پوتین له ما تی سره مخامخ کړی اوپه مسکو کی رژیم ته تغیر ورکړي .
دونالد ترومپ دامریکی د متحده ایالاتو د جمهوری ریاست په ټول ټاکنو کی پخپل کمپاین کی ویلی وه چي هغه غواړي چي د روسي سره خپل مناسبا ت ښه کړي اودهر ډول سیا لی اومخالفت څخه ډډه وکړی اودهغه هیواد سره په ګډه له هغه قوتونوڅخه چي په سوریه کی دداعش – القاعده او د نورو اسلامی افراطی ډلو ټپلو پر ضد په جنګ بخت دی ملاتړ وکړی اوپه مینځنی ختیځ کی د هر ډول نوی تباه کونکی جنګ جګړی څخه چي لکه دعراق د جګړي په څیر فاجعه سره مل وی مخنیوی وکړی یعنی له هغه ډول جګړي څخه کوم چي امریکا د عراق په جګړه کی شپږ تریلیون دالر بی له کوم لاسته راوړني دلاسه ورکړ.
داپخپله کوم چي مو پورته له هغه څخه یادونه وکړل دامریکی دمتحده ایالاتو رای ورکونکي په دي هڅه اواند کي شول چي دونالد ترومپ ته خپل راي وکا روی چي جګړه ودریږي اوامریکا له سره بیا خپل عظمت او لوړوالی د بیا رغوني په روند کی تر لاسه کړي اما له بده مرغه دامریکی جګړه ما رو اوجګړی غوښتونکو هڅه کوی چي دایران سره خپل مخا لفت ته دوام ورکړي اوپر ایران با ند ي نظا مي تیری وکړي اوپه دي ډول په منطقه کی شخړی ته لمن ووهي .
دونالد ترومپ دخپل اولسمشری په اوایلو کي مګر له هغه څخه نه مخکي باید دی ته متوجه شي چي با ید پرخبل ګوند پر خپل حکومت با ندي خپل با ند نی سیاست په زوره تحمیل نکړی لکه هغسی چي اولسمشر لیندن جانسون (Lyndon Johnson) دخپل اولسمشری په وخت کي خپل ځان دما تي سره مخا مخ کړ نو ښه به داوي چي په پیل

*کي دجان مک کین اودمارکو ننګونو سره سره د با ند نې چا رو وزارت ته د نومان ریکس تیلرسون کاندیداتوري باندی غوروکړی اوهڅه دي وکړی چي هغه ومنل شی اویا اجازه تر لاسه کړی چي دهغه کا ند ید اتوری د امریکی د خلکو له خوا ومنل شی .*

***ددی مقالی دلیکونکې په اړه :*** *پا تریک جی بوخا نن دیو نوی کتاب چي دهغه عنوان (ستر راګرځیدنه = Greatest comback ) نومیږی مولف دی اوپه دي کتاب کي تشریح شوی چي څرنګه ریچارد نکسن له یو ما تي څخه نوی اکثریت را مینځته کوي*

----------------------------------- ***په درناوي***